UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلاميه
http://unama.unmissions.org

**د ملګرو ملتونو ځانګړی استازي ستفان دې ميستورا د افغانستان د پارلمان له غړو سره وليدل**

د جون ۲۶، ۲۰۱۱، کابل: د ولسي جرګې غړو نن په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی ستفان دې ميستورا ته يو ليک تسليم کړ چې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په عنون ليکل شوي و. په دې ليک کې د ولسي جرګې غړو له نړيوالې ټولنې څخه غوښتي دي چې د ولسي جرګې چې د اساسي قانون له خوا جوړه شوې او د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د ۱۸ ټاکنو د وروستيو او کره شويو پايلو له اعلان څخه وروسته د افغانستان د ولسمشر له خوا د ۲۰۱۱ د جنورئ په ۲۶ پرانيستل شو، ملاتړ وکړي.

دې ميستورا د پارلمان غړو ته وويل: "د افغانستان ديموکراتيکې موسسې بايد د ټاکنو مسالې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون سره سمې حل کړي. د پارلمان غړي بايد د اساسي قانون له مخې د خپلو غوښتنو په مطرح کولو کې مسوولانه عمل وکړي او په اعتصاب، مظاهرو او نورو داسو کارونو لاس پورې نه کړي چې وکولای شي عمومي نارامی رامنځ ته کړي."

ستفان دې ميستورا د پارلمان غړو ته په تکرار سره وويل چې د ملګرو ملتونو له نظره د افغانستان سوله ييزه راتلونکې د غښتلو ديموکراتيکو موسسو په جوړولو کې نغښتې ده چې د قانون په واکمني او د قواوو ترمنځ په ښکاره جلاوالی باندې اتکا کوي. هغه د ملګرو ملتونو ژمني بيا تاييد کړې چې په پرله پسې ډول به د افغانستان له خلکو او حکومت سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي څو ديموکراتيک موسسات تقويه شي.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**